## دمرکې برخه

**دلوګر جریدې قــدرمنو لوسـتونکو او مینوالو دادی، د مرکې په دې لړ کـې زموږ خبریال دلوګر یوتن هنرمنـد او شاعر سره مرکه کړې ده، ترپایـه یـې ولولئ!**

**خبریال :په لـومړی سـرکې خپـل ځـان دلوګرجریدې لوستونکوته ورو‌پیژنئ؟**

**هنرمند: له هرځه نه وړاندې خپـل سـلامونه او درناوی ټولو هېوادوالو او په ځانګړې توګه د لوګر جریدې لوستونکو ته وړاندې کوم. زما نوم جلات خان سرحدي دخان محمد زوی په ۱۳۴۳ هجري لمریز کال دلوګر مرکز پل علم د بیـدک اړونـد دنوي کلا په سیمه کې زیږیدلی یم.**

**خبریال : ترکومه کچه مو لوستې کړي دي؟**

**هنرمند: زده کړې مې تـراتم ټـولګي پـورې د چونۍ په منځني ښوونځي کې کړي دي، نو کلـه چې په هېواد کې کمونیستي کودتا وشـوه، د زده کړو بهیر رانه پاتې او بهر هېواد ته کډوال شوم.**

**خبریال : دهنر او موسیقۍ برخې ته څنګـه راغلئ او دې هنر ته چا وهڅولئ؟**

**هنرمند: لکه چې مخکې مې وویل، په هېواد کې چې توره کودتا وشوه، زه له خپلې کورنۍ سـره یوځای دګاونډ پاکستان هېواد تــه وکوچیـدم او هلته مې دلوګر سیمه ئیزه موسیقۍ ته مخه کــړه، کله به چې شخصي محفلونو ته له ملګرو سره تللو، نو خلکو به زیات تشویقولم، چې پــه خپلـه هـم وهڅیدلم، ترڅو دموسیقۍ هنر برخه زده کړم او دهنرله لارې خلکو ته چې دموسیقۍ مینــوال دي خدمت وکړم، دې هنر ته خدای بښلي پلار او خپلو خپلوانو وهڅولم.**

**خبریال : دموسیقۍ په برخــه کــې تاسـو استادان لرئ، یامو داسې کس درلود، چې په دغه برخه کې تاسو ته یې لارښوونې کړې وي؟**

**هنرمند : هو! هېڅ کمال بې له استاده یا بې لــه لارښوده زده کیدل یې ناشونې ده، ما دموسیقۍ په برخه کې دوه تنه استادان درلودل، چې هغوی ډیرې لارښوونې راته کړې او له خپلو استادانو مې دهنــر کــاروان ځلــولی، دغــه اســتادان نثاراحمدخراباتي او طالب جان نومیــدل، چــې اوس مهال دواړه وفات شوي دي.**

**خبریال : تاسو دموسیقۍ کومې آلې غږوئ او ترڅنګ یې نورکوم کمال لرئ؟**

**هنرمند: زه په موسیقۍ کې دوه سـره وړوکــې ډوهل یا طبله وهم، د دې ترڅنګ سندرې هم وایم کله کله په خپله شعرونه هم لیکم او موسیقۍ لپاره یې کمپوز کوم. په ډېری وختونو کې کله چې ملي ورځې لمانځل کیږي، یا دخلکو ذوقونه په اســاس آهنیز لوی ډوهل هم وهم.**

**خبریال :په لومړۍ ځل چې هنر ته مو مخــه کړه، هلته مو کومه سندره وویله؟**

**هنرمند: په لومړۍ ځــل یــو شخصــي محفــل دپاکستان په کوټه کې زموږ دخپلوانو ؤ، نو مــا د ډوهل (طبله) وهلو سره سم هغه ســندره وویلــه، چې شعر یې ما خپلــه لیکلــې ؤ او داســتاد دُري لوګري په کمپوز کې مې دغه سندره زمزمه کــړه او له همدې سندرې سره خلکو ډېر تشویق کړم.**

**خبریال : راته ویلای شې هغه شعر؟**

**هنر مند : ولې نه. وفاداره زما یاره سر دې پورته کړه له خوبانه * سمندر په شانې پروت یې ستا پــه درسینه کبابه**

**خبریال : تر دې مهالــه څـومره شـعرونه مولیکلي اود موسیقۍ لپاره موکمپوز کــړي دي؟**

**هنرمند : تردمګړۍ مې له لسو زیــات شــعرونه لیکلي او موسیقۍ ته مې کمپوز کړي دي.**

**خبریال: تاسو پرته دموسیقۍ له هنر څخــه نور کوم فعالیتونه ترسره کوئ؟**

**هنرمند : دخپلې کورنۍ لپاره حلاله روزي دپیدا کولو په موخه ورځني کارونه او ډریو ري کــوم، ځکه یوازې په هنر موږ نشو کــولای چــې خپــل اقتصادجوړه کړو، نو د ډریورۍ په ترسره کولــو خپلې کورنۍ ته یوه مړۍ نفقه پیدا کوم.**

**خبریال : ستاسو په کورنۍ کــې نورڅــوک شته یاله دې مخکې څوک ؤ، چې دموسیقۍ دهنر ډګر یې تازه ساتلی وي؟**

**هنرمند : مخکې زما اروابناد پلار دموسیقۍ هنر یې تود ساتلی ؤ، چې هغه وخت کې دموســیقۍ یوه آله ؤ، چې درباجه په نوم ده، هغه یې غږولــه اوس زموږ په کورنۍ کې څوک نشته پرته له مــا چې د موسیقي هنر ته یې مخه کړې وي.**

**خبریال: لکه څنګه چې ټولــو تــه جوتــه ده، لوګرۍ موسیقي دهېواد په ډېریو ســیمو کــې مروجه وه، خو اوسمهال لوګرۍ موسیقي په بل رنګ بدله شوې، څنګه یاده موسیقي پــه بیــا ژوندۍ کولو او وده ورکولو کې هڅې وشي؟**



**هنرمند : بلې؛ لوګر موسیقي پخوا به دهېواد په ټولو ولایتونو کې مروجه وه، خو اوس ددې موسیقي سره دساز عصري آلې زیاتې شوي او هغه اصیله لــوګرۍ موسیقۍ یې زیانمنه کړې، چې باید په دې برخه کې داطلاعاتواوفرهنګ اړونده اداره دې ورته ځانګړې پاملرنه وکړي، څو لوګرۍ موسیقي له منځه ولاړه نه شي او ددې موسیقۍ هنرمندانو لپاره لازم سهولتونه برابر او هنرمندان وکولای شي، چې دلوګرموســیقي په ژوندۍ ساتلو او پراختیا کــې ډېــرى شــاګردان وروزي.**

**خبریال : اصیله لوګرۍ موسیقۍ کــې کــومې آلې کارول کیږي؟**

**هنرمند : په لوګر ی موسیقۍ کې چې دلوګر ساز او آواز ځانګړي سبک لري، پکــې دوه ســره وړوکــې ډوهل، سرینده، آرمونیه اوتنبور کارول کیږي.**

**خبریال : په اوسني وختونو کې خلک دموسیقي هنر په اړه څه نظرونه لري؟**

**هنرمند : ددې هنر په اړه خلک بېلابېل نظرونه لري، ځینې خلک دغه هنر نه خوښوي او ځینې یې بیا دخپل ذوق له مخې خوښوي، خو ډېرې خلک دانظــر هــم ورکوي، چې نه یوازې په موسیقۍ کې نڅــاوې وي، بلکې خلکو لپاره مهم پیغام دسندرو له لارې پرېښودل شي، څو خلک خپلو چارو ته متوجې کړي.**

**خبریال: دخپــل لیــدلوري لــه مخــې دغــه هنرڅنګه ارزوئ او پــه اوســني حــالاتو کــې موسیقۍ غږوئ او که یه؟**

**هنرمند: دې پوښتنې ته موږ څه نشو ویلای، خو هنر دخلکو ذوق پورې تړلې چې خلک یې څنګــه مثبــت ارزوي او که منفي؛ دغې بلې پوښتنې په ځواب کــې وایم، چې پخوا به کلیوالي سیمو کې چــې محفلونــه ترسره کیدل موږ به دموسیقۍ غږولو لپــاره دعــوت کیدلو، خو اوس ناامني زیاته شــوې، دســاز او آواز موسیقي نشو غږولی، کله کله په ملــي ورځــو اویــا شخصي محفلونو په لمانځنه کې آهنیز ډوهل وهم.**

**خبریال: دکډوالۍ پر مهال موڅــومره وخــت موسقي تازه ساتلې وه؟**

**هنرمند: دپاکستان په کوټه کې چې هلته مېشت وم، پوره یوولس کاله خپل اصیله لوګرۍ موسیقي مو پــه محفلونو او ځیني وخت کې به شوقیان پیدا کیدل مــا ته به یې بلنه راکوله او ما سره نور ملګري هم ؤ، دغه موسقۍ به مو غږوله. وروسته په ۱۳۸۱ هجري لمریز کال بیرته هېواد ته راستون شوم، نو دلته مې تر ډېره وخته چې هغه مهال امنیتي ستونزه نــه وه، د محلــي موسیقۍ ډګر مو تود ساتلی ؤ.**

**خبریال دخپل شخصي ژوند پــه اړه یــو څــه وواياست؟**

**هنرمند: دخپل شخصي ژوند په اړه به ووایم، چــې واده مې کړی، د واده ثمره مې دوه زامــن او شــپږ لورګانې دي، زامن مــې واړه او ښــوونځی وایــې، اقتصادي وضعه مو چندانې جوړه نه ده، یــوازې یــو وړوکی کور لرم.**

**خبریال دژوند ښې او بدې پېښلیکې (خاطرې) مو ووایئ؟**

**هنرمند: ټول ژوند هم ښې خاطرې لري او هم بدې؛ نو چیرته چې امن وي هلته ښه خاطره لرم او چېرتــه چې ناامني وي، نو دامې تر ټولو بده خاطره ده.**

**خبریال : هېوادوالو او په ځانګړې توګه لوګري ولس ته څه پیغام لرئ؟**

**هنرمند: زما پیغام ټولو هېوادوالو تــه دادی ، چــې راځئ ، خپل هېواد جوړ کړئ، جنګ او جګړو ته نــور نه ووایئ .**

**خبریال : په پای کــې داطلاعــاتو اوفرهنــګ وزارت نه مو غوښتنه څه ده؟**

**هنرمند: داطلاعاتواوفرهنګ وزارت نه مو غوښــتنه داده، چې دموسیقي هنرلارویــانو لپــاره ځــانګړې معاشونه په نظر کې ونیسي، دوی لپاره لازم سهولتونه ایجاد کړي او لوګرۍ موسیقۍ د ژونــدۍ ســاتلو او پراختیا لپاره دموسیقي هنــر مکتــب جــوړ او یــاده موسیقي دې دهېواد دملي موسیقۍ په نوم ونوموي.**

**مرکه کوونکی : ستانکزی**

---

**لوګر پیژندنه / لوګرشناسی** موږ سره مرسته وکړئ، چې ستاسو کلی هم در وپیژنو!

## قلعه وزیر

قلعه وزیر، قلعه وبنایی تاریخی است که قریه های اطراف آن بنام قلعه وزیر یادمیشود، این قلعه درهفت جریب زمین ساخته شده است که ازلحاظ تاریخی دارای اهمیت ویژه یی است وارتفاع دیوارهای آن به هفت متر می رسد وازمرکز ولایت لوګرچهارکیلومترفاصله دارد.



بزرگان این منطقه میگویند که قلعه یاد شده درزمان ابتدایی حکومت ظاهرشاه ساخته شده وبعضی ساحات آن تخریب شده است.

میگویند که ظاهرشاه درزمان حکومت اش به این محل یک وزیرخودرا فرستاده بود تا زمین های شاه را به کشاورزان بدهد(ایجاره) دهقانان هزاره ها بودند. این طور نقل میشود که دراین قلعه پنجاه خانواده ها زندگی میکردند ،درقلعه یک مسجد ومیدان اسپ دوانی هم بود، دارای دوبرج بزرگ میباشد که برای دفاع ازآن استفاده می شد وبعد ها درجای یاد شده مردم پادخواب وولسوالی خوشی مسکن گزین شدند.

از این قلعه اثبات میشود که ولایت لوگر درگذشته ها مورد توجه خاصی شاهان وحکومتداران قرارگرفته است ویک ولایت زراعتی میباشد، برای تفریح وزیران به این ولایت می آمدند.

فرستنده: احسان الله «همدرد زوی»

تصحیح وترجمه: ریاست اطلاعات وفرهنګ لوګر

## پادخواب شانه او پادخواب روغني

په لوګر کې دوه پاد خوابه موجود دي، پادخواب شانه د پاد خواب روغني ختیځې خواته پروت دی.

د لرغون پیژندنې د لاس ته راغلو آثارو په شواهدو پادخواب شانه د لوګر یوه تاریخي، فرهنګي او یو زراعتي سیمه ده، لکه چې د پادخواب شانه له زراعتي ځمکو او شاوخوا باغونو څخه د کوشانیانو او غزنویانو زمانې پورې مربوطه مسکوکات موندل شوي دي او ممکن نور هم تر لاسه شي، همدا راز ځینې فلزي مجسمې او فلزي مهرونه او نور آثار هم دلته تر لاسه کېدای شي.

پادخواب شانه چې د لوګرد مشهورو کلیو، د ډېرو ښکلو او سمسورو سیمو څخه شمېرل کیږي په دې ځای کې تخت شاه، کاریز چیجي او تخت زنبورک پروت دي، په تاریخي اسنادو کې ترې یادونې شوي او د بودایي مدنیت او برهمني آئین د اثارو ادرسونه هم په دې ځایونو کې ورکړ شوي دي. د پادخواب شانه په هکله د خلکو په منځ کې بیلابیلې محلي کیسې هم آوریدل کیږي ځینې وایي؛ چې په اصل کې داسیمه (باد، خواب) ؤ او په دې ځای کې داسې په زړه پورې نسیم (باد) الوته چې سړي ورته خوب ورځلو. نو دا ځای د غزنویانو د اوسیدلو محلونه (خوابګاه) یا (خواب خانه) یعني د خوب ښه ځای ؤ.



پاد خواب شانه په اصل کې (بادخواب شاهانه) تعبیرېدای شي. ځینې د دې سیمې د یو شمېر چینه زارو په باب کیسې کوي او وایي: دا چینې د ننګرهار د سلطان پور د چینو سره تر ځمکې لاندې ارتباط لري او له دې ځایه د لوګر د پادخواب شانه چینې او د سلطان پور چینې د اهل هنود د عرف له مخې متبرک مقام درلودلې دي او د برسات په موسم کې د هغوی ډېرې په زړه پورې کلنۍ اوږدې میلې هلته پر ځای کېدلې.

د لوګر د دوشنبې د اوسیدونکي مومن خان له خولې، دا سیمه زراعتي سیمې او چمن زارې وې او سلطان محمود غزنوي د رمو پاده وانانو به په دې چینو کې رمې راټولولې.

پاد خواب شانه چې د دوشنبې ختیځ ته او پاد خواب روغني یې لویدیځ ته پرته ده، پاد خواب شانه د غزنویانو د غوښو د اکمالولو او وړیو د راټولولو او پاد خواب روغني یې د غوړیو د راټولولو ځای ؤ نوموړي دلته د بابک د ویساک میلو ته هم اشاره کړې ده.

**راټولوونکی : بشیراحمد«ساحل»**

## هوا یکی از منابع مهم حیاتی برای انسانها و دیگر موجودات زنده است

**طوریکه میدانیم هوا یکی از نعمت های بسیار با ارزش و مهم خداوند متعـال بـرای انسـانها و تمـام زنـده جـان ها میباشد که ادامه حیات موجودات زنده، بدون داشتن هوای پـاک نـاممکن اسـت. طوریکـه هـوای پـاک بـا اهمیت و حیاتی است، آلوده گی هوا نیر مضر و خطرناک میباشـد؛ هـوا ترکیبـی از گـازات میباشـد کـه بطـور طبیعي میتواند آلوده گی ها، دود و گرد را تصفیه نماید اما اگر آلوده گـی بشـتر گـردد فیصـدی و تـوازن گـاز ها برهم خورده و سبب مشکلات عمده تنفسی میگردد و هرقدر میـزان آلـودگی بیشـتر باشـد، تعـداد بیشـتري از افراد، مبتلا به امراض مي شوند.**

**درطبیعت انواع مختلف آلودگی وجـود دارنـد، کـه هرکـدام مشـکلات را در مسـیر زنـدگی انسـان و تمـام موجودات زنده بوجود میاورد. هوا که از جمله منـابع بسـیار مهـم و ضـروری بـرای ادامـه حیـات موجـودات زنده به شمار می آید، الودگی هوا هم برای زنده جان بسیار مضر وخطرناک است.**

**آلوده گی هوا یکی از مشکلات عمده صحی و اجتماعی در شهر های برزگ کشور گردیده است که عوامل اساسی آن انتشار بیش از حد دود و گرد وخاک در فصل زمستان میباشد.**

**درجریان فصل زمستان فامیل ها محترم به منظور تسخین منازل و پخت و پزمواد خوراکه خـویش و بـه همینگونـه فعالیت های مختلف در شهرمانند خبازی ها، رستورانت ها، حمام ها سماوار های سیار و غیره جهت انجام فعالیت هاي روز مره خویش مجبور اند از مواد سوختی استفاده نمایند.**

**به منظور جلوگیری از آلوده شدن هوای شهر پل علم مسولیت تمام مردم است تا از سوختاندن مواد دود زا مثل رابـر، پلاستیک استفاده نکرده و کوشش شود تا هوای ولایت خویش به خصوص شهر پل عم را پـاک نگهداشـته تـا از بـروز مشکلات صحی و اجتماعی برای خویش و سایر همشهریان خود جلوگیری نمائیم.**

**ریاست حفاظت محیط زیست لوگر**

---






**زلمی ځلاند**

هغه وګړي (خلک) چې د خپل ژوند خوشاله شېبې په ملنډو ویلو باندې تېروي او له همدغو ملنډو څخه یو ډول خوند اخلي او نور وګړي هم د خپلو ملنډو په واسطه خندوي، نو همدغه خلک تر ټولو لوی فاسد لرونکي انسانان دي.



**Ata Mohammad Miakhel**

اگر میخواهید در زندگی موفق باشید، با ترس هایتان رو برو شوید و آنرا شکست دهید.

اگر میخواهید با دیگران متفاوت باشید، پس در زندگی تان هدف مشخص داشته باشید.

اگر میخواهید در زندگی تان شاد و خورسند باشید، با دیگران کینه نه ورزید.

اگر میخواهید کشتی آرزو هایتان به ساحل مورد نظر تان برسد، با دیگران دید متفاوت داشته باشید.

اگر میخواهید دیگران به شما احترام کنند، پس دیگران را به دید احترام بنگرید.



**Mohammad Mosa Adeel**

هغه کار چې تاسو د الله(ج )له عبادت او مینې څخه لرې ساتي، مصروفیت نه؛ بلکې ستاسو د کومې ګناه سزا ده چې الله(ج ) درپیښ کړې ده.



**Mahmod Hemat**

نیکي ددې لپاره مه کوئ، چې په خلکو ګران شئ؛ بلکې ددې لپاره یې وکړئ، چې خلکو ته انسانیت ثابت کــــــــړئ.



**بلال ویال**

که غواړئ چې مغز مو رشد او وده وکړي نو د کتاب په بینزینو یې ولمبوئ چې لوی او ستر شي. دا بینزین مو شخصیت لوړوي او مطرحه څېره درنه جوړوي، له نورو وګړو دې بېلوي او بلې نړۍ ته دې داخلوي، چې دا نړې تر نورو ډېر توپیر لري دلته هر څه په منطق ولاړ او په پوره ډاډ او حوصلې سره ترسره کېږي، همدا تر مغز مو نوي شیان آفلوډوي او پاتې مغز رسټوروي.

## افغانستان

حـاصـل درخـت صـلح تـو هـردم هـوس مـن
ای عشـق مـن ای هـر نفـس مـن
یـاد عـشق تـو هـردم مـی وزد در وجـود مـن
فـدای آب و خـاک تـو ای هسـت و بـود مـن
بـاتـو وفـادارمیمـانـم ای همـه کـس مـن
ای عشـق مـن ای هـر نفـس مـن
ذرات وجـودم افغـان پرورند دوست دار افغانم
هیچ جمـالـی نـرسـد بـه جمـال پغمـانـم
پـنجشیر آشـیانـم پـروان قـفـس مـن
ای عـشـق مـن ای هـر نفـس مـن
ویـرانه هـایـت را بـا بـرگ گـل تـرمـیم کنم
پـرچـم تـرا روی بـدنـم تـرسـیم کنـم
عشق میورزد باتو تادر دنیا بماند خارو خس من
ای عـشق مـن ای هـر نـفـس مـن
«فـرحت» دایـم عـشق مهـر تـرا اظهار کـند
بـا یـاد نام بلخ بـاسـتان افتـخـار کـند
در لـوگـر لغمان کـوهـدامـن آدرس مـن
ای عـشق مـن ای هـر نـفـس مـن

**فرحناز «فرحت»**